# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۲۰ ګڼه / سه شنبه ۲۳ رمضان‌الکریم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱٤ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش / ۰۲ اپریل ۲۰۲٤ میلادي


اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:۱۸

سحر: ٤:۱۳

## روند تولید سمنت گلبهار تا یک سال دیگر آغاز خواهد شد

رییس شـرکت گلبهار گروپ در دیدار با سرپرست وزارت معادن و پترولیـم گفـت: رونـد تولید «سـمنت گلبهار» تا یک سـال دیگر آغاز خواهد شد.

دفتـر مطبوعاتـی وزارت معادن و پترولیم با نشـر این خبر گفته است: شیخ شهاب الدین دلاور سرپرسـت آن وزارت بـا رییس شرکت گلبهار گروپ دیدار کرد.

رئیس شـرکت گبهار گروپ در مـورد اغاز کار عملـی کارخانه سـمنت گلبهارکه در ولسـوالی زنده‌جان هرات ساخته می شود، به سرپرست وزارت ص۳

## کـابينې غونډه کې د ترافيکي پېښو د مخنيـوي طـرحه تـايـيد شـوه



د افغانسـتان اسـلامي امارت د رئيـس الوزراء ملا محمدحسـن اخوند په مشـرۍ د کابينې په شـلمه غونډه کې، د ترافيکي پېښـو د مخنيوي طرحه تاييد او اړوندو ارګانونو ته د تطبيق په موخه وسـپارل شوه. ددغې طرحـې د چمتووالي دنـده، د کابينې په تېره غونډه کې کورنيو چارو ته سـپارل شـوې وه چې په تطبيق سـره به يې پـه هيواد کې د ترافيکو پېښـو په مخنيوي کې د پام وړ کموالی راشـي.د ترافيکو پېښو د مخنيوي سـربېره پـه دې غونډه کې لـه مالدارو هيوادوالو سره د شويو مرستو راپور هم واورول شو او اقتصاد وزارت ته دنده وسپارل شوه چې په راتلونکي کې دې خپلې چـارې د طرز العمل مطابق له اړوند ادارو سـره په همغږۍ سـرته ورسـوي.د کابينې له لوري د ترافيکي پېښـو د مخنيوي طرحه داسې مهال چمتو او د تطبيق وړ ګرځي چې په دې وروستيو کې د هېواد پـه تقريباً ټولو ولايتونو کې ترافيکي پېښـې په کمسـارې توګه زياتې شـوي چې سـتر لاملونه د موټرچلوونکـو نـه پاملرنه، د ترافيکـي اصولو نه مراعت، د سـړکونو خرابوالی، د لېږنده وسـايطو له حده ډېر زړښت، د لارو تنګوالی او خرابوالی او نور دي.

## آخرین تحولات سیاسی کشور، منطقه و جهان بررسی شد

جلسـه نوبتی کمیسـیون سیاسی امـارت اسـلامی تحت ریاسـت مولـوی عبدالکبیـر، رییـس این کمیسـیون و با حضور اعضای آن برگـزار شـد.ارگ در خبرنامه‌ای از برگزاری جلسه کمیسیون یادشده در قصر سپیدار، خبر داده است.بربنیاد خبرنامه، در این جلسه ص۳



## اروپا ته د افغاني مېوو او سبزيو د خوندي لېږد په موخه ستر ساتنځای جوړېږي



د افغانسـتان د وسـپنې پټلـۍ رهبري د ازبيکستان د رېل پټلۍ اداري له مرستيال رحمت اوف او مل پلاوي سره په کتنه کې پر دوه اړخيزو همکاريو او اړيکو خبرې اتـرې کړې دي.د ازبيکسـتان د رېل پټلۍ اداري مرسـتيال او مل پلاوي د وسـپنې پټلۍ له رييس بخت الرحمن شـرافت او نورو چارواکو سـره په کتنه کې ويلي، چې د حيرتان–مزارشريف مسير په نايب اباد تمځای کې ۳مخ

## د بېوزلو او زيانمنو افغان ماشومانو لاسنيوی کېږي

د افغـان زيانمنـو او بـې وزلـه ماشـومانو د لاسـنيوي په موخه د قومونـو او قبايلو چـارو وزارت له جرمني مرسـتي موسسـې سره يو شمېر هوکړې ليکونه لاسليک کړل. دغـه هوکړه ليکونه د سـرحدونو، قومونـو او قبايلو چـارو وزارت د جرګو او قبايلي چـارو د همغږۍ مرسـتيال مولوي احمد علي جان احمد او له افغان ماشـومانو سـره د جرمنـي مرسـتي موسسـې له مرسـتيال مصطفی تر منځ د يوې ناستې په ترځ کې لاسليک شو.

ددغه هوکړې ليکونو له مخې به یاده موسسـه د سـرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت سره په همغږۍ په لړۍ پرتو سـيمو کـې د بېوزلو خلکو، کوچي قشر ۳مخ

## هلمند کې د يوه بنستيز سړک کار پيل شو

د هلمنـد ځايـي مسـوولين وايي چې پـه دې ولايت کې يې د ۱۴.۵ کيلومټرو په اوږدوالي د يوه بنسـتيز سـړک چارې پيل کـړي دي.دغه سـړک د باباجي ولسـوالۍ اړوند لوی مانده څخـه تر هرات کندهار عمومي سـړک پورې غځيږي چې چارې يې پرون پيل ۳مخ

## سرمقاله

## د نظام د لاټينګښت او تنظيم لپاره مهم ټوکی!

ښـايي موږ هريو دا تجربه ولرو چې آن که يوه کورنـۍ کې هم د مشر او کشر صلاحيتونه ټاکلي نه وي، کوم يو له خپل صلاحيت نه بهرچلېږي، څوک له خپل صلاحيته پوره کارنه اخلي، د څو کسانو ترمنځ د صلاحيتونو تداخل وي يا ځينې نورسره مسـاوي صلاحيت ونه کاروي او يا د مشـورې اصل له پامه غورځوي، داسې کورنيو کې حتماً ګډوډۍ او اختلافات منځ ته راځي او معامله تاوتريخوالي ته رسيږي. البته دا کورنۍ که بيا څلوېښت ميليونه وګړي ولري چې لږ ترلږه يوه ميليون خو يې خالص د همدې کورنۍ منتظميـن وي چې امير، رئيس، وزير، قاضي، قوماندان، والي، ماموراو ساتونکي په توګه جلا جلا ذمه وارۍ يې پرغاړه او د خپلې کورنۍ بيت المال اوټول شريک وسـايل يې هم په واک او اختيارکې وي، بيا د يادې کورنۍ د چارو سمبالښت او ښه انتظام لپاره خورا ډېره ضروري ده چې هر منتظم او مسوول يې د خپل مکلفيت پېژندنې لپاره يو مفصله، مشرحه، جامـع او ټاکلې لايحه ولري، څـو د هماغې لايحې په رڼا کې د خپلې وظيفې کليـات اوجزئيات وپيژني اوعام وګړي يې هم پـه دې وپوهيږي چې کوم کوم تصرفات يې قانونه اوغلط دي. په دې توګه به هرمامور او مسـؤل په رڼو سترګو د خپلو اختياراتو ساحه ويني، خپل کاري چوکاټ به پېژني او دا دعوا به نه شي کولی چې کارونه يې ټول په شريعت اوعدالت برابروو هرڅه چې کوي او يا يې کړي، د هر يوه لپاره خپل دليل اوخپل تفسـير اودلايل لري. مطلب دا چې موږ ټول د اخرې زمانې او د شر، فسـاد او فتنو د وخت خلک يو او ښـکاره ده چې ددې څلوېښت ميليوني خاندان دغه يوميليون خادمان هم دهمدې ټولنې اوهمدې زمانې خلـک دي او دا هم معلومه ده چې د ټـول رعيت دا شريک بيت المال، وسايل، شتمني او د هغوی پرسر واکمني يو داسې دروند امانت او هغه سخت امتحان دی چې له مسـووليته يې په برياليتوب سره خلاصېدل يقيناً د انبياوو او صحابه کراموايمان غواړي. په دې اساس ويلی شو چې دا وخت داسلامي امارت په نامه ترلاسـه شوې انتظاميه اود افغان مسلمان ملت د انتهايي بې مثاله قربانيو په بيه ګټلې خپلواکۍ او زرين فرصت خامخا په دې ارزي چې موږ هر يو يې د لاټينګښت او پرمختګ لپاره شپه ورځ فکروسوچ وکړو اوټولې هغه نيمګړتياوې درک او مشخصې کړو چې خدای دې نه کړي د نظام د ناکامۍ او بدنامۍ لامل ګرځي، ځکه دا فرصت زموږ د څه دپاسه څلورو لسيزو مبارزاتو محصول دی، لـوی خدای جلاجلاله دې دغه فرصت راڅخه نه ضايع کوي او ټولو منتظمينو سره دې تل ترتله الهي توفيق او نصرت مل وي.

## د مسلمانانو پرمختګ ته يوه کتنه

۲

## د رمضان اوولسمه او اتلسمه ورځ؛ د تاريخ له پاڼو

۲

## افغان اعلانات

۲

## افزایش چشمگیر عاید اداره احصائیه و معلومات فاریاب



مسوولان، ازافزایش دو برابر، عاید اداره احصائیـه ومعلومات فاریاب خبردادند.بـه اسـاس ارقـام ارائه شـده، درجریان سال گذشته، اداره احصائیه ومعلومات فاریاب، نود و دو ملیون افغانی عاید داشته است، درحالی که این رقم درسال پیش از آن، چهل وشش ملیون افغانی بوده اسـت.مولوی عبدالباری انقیادی رییس احصائیه و معلومات فاریاب بـه آژانس باختـر گفت:این عاید، ازدرک توزیع دوصدو ص۳

## ۱۰هزار خانواده نیازمند کمک‌های بشردوستانه دریافت کردند

وزارت احیـاء و انکشـاف دهات می‌گویـد، برای حـدود ۱۰ هزار خانواده نیازمنـد در هفت ولایت کشـور، کمک‌های بشردوسـتانه توزیع شـده اسـت.این وزارت با نشـر خبرنامـه‌ای از توزیـع این کمک‌ها خبر داده است.

کمک‌های یادشـده بـه نیازمندان در ولایت‌هـای هلمنـد، ارزگان، بغلان، کنـدز، نورسـتان، پروان و کابـل توزیع شـده اسـت.این کمک‌ها شامل مواد خوراکی است که از سـوی برنامه‌هـای جهانی فراهم شده است.بربنیاد خبرنامه، ریاسـت‌های ولایتـی احیـاء و انکشـاف دهات، نقش همکاری در توزیع و تشخیص خانواده‌های مستحق، داشته‌اند.

## یک محموله مهمات در هرات کشف وضبط شد

مقام‌هـای امنیتـی ولایـت هرات می‌گوینـد، نیروهـای پولیـس قوماندانی امنیـه ولایت هرات یک محموله مهمات را در ولایت هرات، کشـف‌وضبط کرده‌اند.عبدالله انصاف، سخنگوی قوماندانی امنیه هرات در گفت‌وگو بـا رادیو امید از کشف‌وضبط این محموله، خبر داده است.آقای انصاف گفته که مهمات به‌دست آمده شامل ۱۱ فیر نارنجک، ۲۳ دانه کلاه ایمنی نظامی، ۶ صوب سپر ضد آشوب، ۸ فیر مرمی راکت خورد و بزرگ، ۱ فیر خسته ابوس، ۳ فیر مرمی تـوپ، ۱۹ فیر مرمی ۸۲ ملی‌متری، ۹۱ فیر مرمی زیکویک، ۵۷ فیـر مرمی دهشـکه، ۳۰۰ فیر مرمی پیـکا، هفت چانته و مقداری مواد انفجـاری است.سـخنگوی قوماندانی امنیه ولایت هرات افزوده که این محموله از سوی ص۳

## توزیع تخم اصلاح شده به صدها دهقان درغور



صدها دهقـان درغـور، تخم های اصلاح‌شده‌بذری، کود کیمیایی وابزار کار دریافـت کردند.این کمک ها، به هدف حمایت ازدهقانان ورونق کشت وکاردرغور، توسط نهاد ‹افغان اید› به همکاری ریاست زراعت این ولایت، صورت گرفت.دفتروالی غوربا پخش خبرنامه یی می گویـد که دراین دور، دوصدو پنجاه دهقـان، تخم اصلاح شده، کود کیمیایی وابزارکار دریافت کردند.

# د رمضان اوولسمه او اتلسمه ورځ؛ د تاریخ له پاڼو

حسان مجاهد

**_ د بدر غزا**

د هجـرت په دویم کال د رمضان په دوولســـمه نېټه رسـول الله ص د صحابه کرامو په ملتیا روان شو، تر څو له شام څخه مکې مکرمې ته هغه راروانه قافله ونیســـي چې په قیمتي مالونو بار زر اوښــان په کې وو او مشري یې أبو سفیان کوله؛ چې په دې ســره به د کفارو قوت له منځه لاړ شـــي، له مســـلمانانو سره یوازې دوه آســونه او اویا اوښان وو. د قافلې مشر أبو ســفیان د مکې معظمې مشــرکینو ته حال ولېږل او د قافلې ژغورنې لپاره یې همکاري و غوښــته، هغه و چې د أبوجهل په مشــرۍ د کفارو زر کسیزه لښکر چې اویا آسونه، اوه سوه اوښــان او ډمې نڅاګرې ښــځې ور سره وې؛ روان شو. أبوســفیان لاره بدله کــړه او أبوجهل ته یې حال ورکړ چــې موږ ځانونه وژغورل، تاســو هم بېرته ســتانه شئ! خو أبوجهل چې له رسول الله ســره یې زیات عناد درلود؛ قسم یې وخوړ چې موږ بــه د بدر په میدان کې درې ورځې خوشــحالي لمانځو، اوښــان به حلالو او ډمې ښــځې به نڅوو. د رمضان د اوولســـمې ورځې په ســـهار د بدر په میدان کې د اســـلام او کفر لښــکرې ســره مخامخ شوې، تر جنګ وړاندې لومړی انفرادي مقابله پیل شــوه، له نبــوي کورنۍ څخه درې تنه مســـلمان سپه سالاران حضرت علي رض، حمزه رض او عبیده بن حارث رض او له قریشــو عتبه، شــیبه او ولید د جنګ میدان ته را بهر شو، درې واړه مســـلمانانو هر یو کافر په نوبت سره ووژل، عبیده رض د عتبه په ګذار لومړی زخمي او بیا وروسته شـــهید شو. له انفرادي جنګ وروسته عام جنګ پیل شو او مســـلمانانو داســـې میړانه وښـــوده چې تر ننه یې کارنامې د تاریخ په زرینو کرښــو لیکل کېږي، د بدر غزا د اویا کفارو په وژلو، د اویا تنو په ژوندي نیولو او د څوارلس مســـلمانانو په شهادت پای ته ورسېده.

**۲_ د حضرت علي رض شهادت**

حضــرت علي رض چې د رســـول اللـــه زوم او د تره زوی و، تــر بعثت لس کالــه وړاندې زیږېدلی او د رســـول الله په کور کې د هغــه تر تبیې لاندې را لوی شـــوی و، نوموړی لا ماشـــوم و چې ایمان یې قبول کړ. څلور کاله او نه میاشتې یې خلافت وکړ. نوموړی په ٤۰ هجري کال په عراق کې د رمضان په اوولســـمه نېټه د جمعې په ورځ یو بهرني( إبن ملجم )هغه مهال شهید کړ چې ســـهار وختي لمانځه ته روان و. حسن رض، حسین رض او عبدالله بن جعفر رض غسل ورکړ، حســـن رض پرې د جنازې لمونځ وکړ، څوک وایي د کوفې مســـجد قبلي طرفته، څوک وایي په قصر الأمارة کې او څوک وایي د عراق په نجف ښــار کې خاورو ته وسپارل شــو، خو کره خبره داده چې د تدفین ځای یې د خوارجو له ویرې پټ ســاتل شوی دی او څوک پرې معلومات نه لري.

**۳_ د حضرت رقیة رضي الله عنها وفات**

حضرت رقیة رض د رســـول الله لـــور او دعثمان رض بي بـــي وه، له خپل خاوند ســره یې دوه ځله هجرت کړی و؛ لومړی ځل له مکې معظمې حبشــو تــه او دوهم ځل له مکې معظمې مدینې منورې ته، له دې کبله دا په «صاحبة الهجرتین» مشــهوره وه. عثمان رض له رســـول الله ســـره غزوة بدر ته د تلو اراده کړې وه، خو رســـول الله ورته له ناروغې رقیې رض ســـره د پاتې کیدو امر وکړ، په ۲هـ کال د رمضان په اوولســـمه نېټه چې رســـول الله په بدر کې وه، رقیــة رض ۲۲ کلونــو په عمر وفات شـــوه او په جنت البقیــع هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

د رمضان په اتلسمه نېټه

**۱_ دخالد بن ولید رض وفات**

خالد بن ولید رض د مکې تر فتحې شـــپږ میاشـــتې وړانـــدې ایمان راووړ، نوموړي ټول عمر په جهادونو کې تېر کړ او د اســـلام په تاریخ کې هغه زړور مجاهــد یادېږي چې پـــه هیڅ یوه جګړه کې یې ماتې نه ده خوړلې. دمشـــق یې فتحه کړ، په شــأم کې د روم امپراتــوري او عراق کې د فارس امپراتوري پر وړاندې یې د زړورتیا او قهرمانۍ مهم رول درلود، له رســـول الله څخه یې أتلس حدیثونه روایت کړي، د بخاري شـــریف په یو حدیث کې نوموړی وایـــي: د موتې په غزا کې زما په لاس کې ۹ توري ماتې شـــوې او یوازې یوه یماني توره مې په لاس کې روغه پاتې شـــوه. نوموړی په ۲۱هـ کال د رمضان په اتلســـمه نېټه وفات شـــو او د شـــام په مشهور ښـــار حمص کې خاورو ته وسپارل شـــو. د مرګ په بستر یې دا جمله وویله: شـــهادت مې غوښتل، خو په برخه مې نه شـــو او نن داده په بســـتر مرم! خو بیا هم تر» لا اله الا الله« کلمې پرته هېڅ شـــي ته امید نه لرم، زه بـــه په همدغه کلمې ځان ژغورم.

**۲_ له حســـین رض سره د خلکو بیعت**

په ٤۰هـ کال د رمضان په اتلســـمه نېټه له حسین رض سره خلکو دخلیفه په توګه وروســـته تر هغه بیعت وکړ، چې پلار یـــې أمیر المؤمنین حضرت علي رض شهید شو. له شپږ میاشتې خلافت وروســـته یې د خپلمنځي اختلافاتو د مخنیوي په خاطر خلافت حضرت معاویه رض ته وســـپارل.

**۳_ د إمام الشریف عبد الحی ندوي زوکړه**

د رمضان په اتلســـمه نېټـــه د هند لوی مؤرخ عبد الحی بـــن فخرالدین چې په إمام الشـــریف ندوي یې شـــهرت درلود، وزیږېد، د نومـــوړي نیکه قطب الدیـــن لـــه بغداد څخه د مغولـــو د فتنې پـــر مهال لومړی غزنـــي ته مهاجر شـــوی و او بیا وروســـته له غزني څخه هند ته کډه شـــوی و، چې اولادونه یې هم هلته را لوی شـــوي دي. نوموړی د( نزهة الخواطر، بهجة ألمســـامع وألمناظر، جنة المشـــرق ومطلع النور المشـــرق، الثقافة الإسلامیة في الهند او تلخیـــص الأخبار) کتابونو لیکوال دی.

**٤_ د دوه لکه اندونیزیایي مســـلمانانو عامه وژنه**

د رمضـــان پـــه اتلســـمه ورځ د هالینـــډي ځواکونو له لـــوري د اندونیزیا د خلکـــو قتـــل عام پیل شـــو، په پنځلســـمه میـــلادي پیړۍ کې مســـلمانان د اندونیزیـــا ټاپوګانـــو تـــه د تجارت پـــه موخه ننوتـــل، او هلته په شپاړســـمه میلادي پیړۍ کې اســـلام په چټکۍ ســـره خپور شـــو. کله چې هالنډیانو په اندونیزیا کې هســـپانویانو ته ماتې ورکړه، په ۱۷۹۵م کال کې فرانســـویانو د «نابلیون بونابرت» په مشـــري اندونیزیا مســـتعمره کړه، کلـــه چې هالنډیانو دوی تـــه هم ماتـــې ورکړه، د اندونیزیا خلکو یو ســـتر انقـــلاب را منځته کړ چـــې پایله یې دا شـــوه چې هالنډیانو د روژې په مبارکه میاشـــت کې خلک ووژل او دا وژنـــې یـــې دوام درلود. پنځه کاله وروســـته تـــر دې چې هالنډ د دوه ســـوه زره مســـلمانانو له وژلو وروســـته د اندونیزیا په بشـــپړ کنټرول ترلاسه کړ.

# د مسلمانانو پر مختګ ته یوه کتنه

**دریمه برخه - لیکوال: پروفیسور ارشد جاوید - ژباړه: انوارالحق عاصم**

د مسلمانانو سیاسي پر مختګ

نبوي زمانه

په رسول الله ص لومړنۍ وحی ۶۱۰م فبروري کې نازله شوه، دوه کاله وروســـته هغه مبارک بلنه پیل کړه، د مکې خلکو له هرې ممکنې لارې د دې مقصـــد د ناکامولو هڅه وکړه خو اسلام ورو، ورو خپرېده، له دې ناکامۍ وروسته د مکې خلکو د مسلمانانو تعذیبول پیل کړل، د رسول الله ص په اصحابو یې ظلمونه ســـتمونه وکړل، کله چې د دوی ظلم او ستم پای ونه موند، نو مسلمانانو د ۶۲۲م ستمبر کې مدینې ته هجرت وکړ.

د مکې کفارو مدینه کې هم مسلمانان په ارام پرېنښودل او په ۶۲۴م کې د یو ســـتر لښکر سره د اسلامي ریاست له منځه وړلو لپاره د مدینې په لور وخوځېدل، ددوی په لښکر کې نږدې زر تنه جنګیالي وو، له دوی سره ۶۰۰ زغرې او ۷۰۰ اوښان وو، خو د مسلمانانو شمېره ۳۱۳ تنه وو، له دوی سره د ګوتو په شمېر توري، یواځې اته زغرې او ۷۰ اوښان وو چې مجاهدین پرې یو په بل پسې سپرېدل، د بدر په میدان کې دواړه لښکرې مخامخ شـــوې، د مکې کافر په پراخه کچه مسلح او له خورا ډېرو امکاناتو سره راغلي وو، خو مسلمانان د شهادت په جذبه مست وو، د بدر په جګړه کې کفار له شرمناکې ماتې سره مخ شو، ۷۰ مړي او ۷۰ بندیان یې تر شا پرېښودل چې یواځې ۱۴ مسلمانان شهیدان شوي وو.

په بدر کې د ماتې له کبلـــه د مکې په هر کور کې ماتم جوړ شو، د مکې کافرو د خپلو مړو د غچ اخیستلو لپاره راتلونکی کال ۶۲۵م کې بیا په مدینه برید وکړ، دا ځل د دوی شـــمېره ۳۰۰۰ وو چې د مسلمانانو شمېر یواځې ۷۰۰ تنه وو، د أحد غره ته نږدې خونړۍ جګړه وشوه، په پیل کې مسلمانانو برې وموند، کافر وتښتېدل، مسلمانانو تعقیب کړل تردې چې په کنډو کمارل شوي غشي ویشتونکي؛ چې رسول الله ص په هر ډول حالاتو کې د خپل ځای پرېښودو څخه منع کړي وو؛ د تعقیب لپاره راښکته او کنډو تش پاتې شو، له همدې کنډو نه خالد بن ولید چې هغه وخت مسلمان شوی نه ؤ پر مسلمانانو د شا له لوري برید وکړ، د غشو ویشتونکو د سرغړونې له امله مسلمانانو برۍ په ماته بدل شو خو بیا هم د مکې کافران د پوره بریا پرته ستانه شول.

۶۲۷م کال کې د مکې کافـــران د ډېرو عربو قبیلو په ملتیا پر مدینه د برید لپاره راغلل، د کافرانو شمېره لس زره وو، رسول الله ص له مدینې چاپېره خندق وکینده، چې له امله یې کافران مدینې ته په ننوتلو بریالي نه شول، اوویشت ورځو پورې مدینه کلابنده وه، یوه شپه الله تعالی توند باد راوالوځاوه چې له امله یې د کافرانو کېږدۍ چپه شوې، سارۀ ډېر شول چې په پایله کې بریدګر ناکام او تش لاس ستانه شول، له دې وروسته کافرانو بیا پر مدینه برید کولو ته زړه ښه نه کړ.

د خندق غزا نه یواځې درې کاله وروسته ۶۳۰م کې رسول الله ص د لس زره کســـیز پوځ سره پر مکه برید وکړ، مکې والو د دفاع کولو توان نه درلود نو رســـول الله ص د یو فاتح په حیث مکې ته ننوت، نه کومه ابادي ونړېده، نه کومه مېرمن بې ابرو شـــوه، مکه له وینې تویېدو پرته فتح شوه، د فتوحاتو په تاریخ کې د دا ډول پُرامن ننوتلو بېلګه نشته، د مکې والو سره د رحم او کرم سلوک وشو، رسول الله ص د ابوسفیان په څېر سخت دښمن هم وبښه، یواځې یو څو مجرمانو ته چې قانوناً مجرم ؤ سزا ورکړه.

راشده خلافت

له رسول الله ص وروسته ابوبکر صدیق رض خلیفه وټاکل شـــو، نوموړي دوه کاله حکومت وکړ، د رســـول الله ص له وفات نه وروســـته ځیني قبیلې له اسلام نه مرتد او بغاوت یې وکـــړ، ابوبکر صدیق د بغاوت په ټکولو او د عربو ټولو قبیلو په یؤ کولو کې بریالی شـــو، نوموړي نـــه یواځې داچې ارتداد او بغاوت کنټرول کړ بلکې د عربو لـــه پولو دباندې یې پوځونه ولېږل، نوموړي د اسامه بن زید رض لښکر د رومیانو مقابلې ته ولېږه، د روانېدو پر وخت یې د نصیحت په ډول ورته وویل: د چا لاس او پښې مه پرې کوئ، کوچنیانو، ښځو او بوډاګانو باندې توره مه راباســـئ، د خرما ونې له ارټیا پرته مه غوځوئ، ونې بوټي مه سېزئ، بې ضرورته څاروي مه وژنئ، د نړۍ په تاریخ کې له دې مخکې داسې بېلګه نشته دی، د اسامة لښکر بریمن راستون شو.

له ابوبکر صدیق رض نه وروســـته عمر فـــاروق رض۴۴هـ -۶۳۴م خلیفـــه شـــو، د نوموړي پـــه رهبرۍ مســـلمانانو حیرانوونکي فتوحات وکړل، په ۶۳۵م کې یې اردن فتح کړ، ۶۳۶م کې یې ایرانیانو او رومیانو ته ماتې ورکړه، په ۶۳۷م کې یې د یروشلم بیت المقدس ستره فتحه وکړه، مسلمانو پوځیانو تر ۶۴۱م پورې فارس، شـــام، فلسطین او مصر فتح کړل په ۶۴۳م کې طرابلس لیبیا فتح شوه.

د عمـــر فاروق رض خلافت دور کې عراق، الجزایر، ارمینیا، اذربایجان، کرمان، خراســـان، هرات، همـــدان، دیلم، رې، طبرســـتان، سیســـتان، فارس او مکران د اسلامي حکومت برخه وګرځېدل، په همدې ډول د بدر غزا نه شل کاله وروسته مسلمانان د یو پراخه سلطنت خاوندان شول چې په ۲۲ لکه میله مربع ځمکه باندې خپور ؤ، هاغه وخت په نړۍ کې ایران او روم دوه زبر ځواکونه ؤ، مســـلمانانو د روم قیصر او د ایران کسرې دواړو ته ماتې ورکړه.

مشهور غربي تاریخپوه (کیرن آرم سټرانګ) لیکي:

«د اســـلام له راتګ نه مخکې عربان وروسته پاتې خلک وو، البته ډېره لنډه موده کې یې دوه نړیوالو زبر ځواکونو ته تاریخي ماتې ورکړه».

یو غربي عالم لیکي: که عمـــر فاروق رض لس کاله نور هم ژونـــدی وای یا د هغه په څېر یو بل عمر پیدا شـــوی وای نو په نړۍ کې به له اســـلام پرته بل دین پاتـــې نه ؤ، ۶۴۴م کې عمرفاروق رض شهید شو، نوموړی هاغه څوک ؤ چې رسول الله ص یې په اړه فرمایلي ؤ: که له ما وروسته بل نبي وای نو هغه به عمر ؤ.

د عمرفاروق رض دردوونکي شهادت نه وروسته عثمان رض (۵۶هـ ۶۴۴م) کې خلیفه وټاکل شـــو، د نوموړي خلافت دور کې د فتوحاتو سلسله روانه وه، مسلمانانو د شمالي افریقا ځیني سیمې فتح کړې، مســـلمان پوځونه د کیشیا ورهاخوا پوربوتـــل، د نوموړي په خلافت کې قبـــرص، تونس، لیبیا، خوارزم، افغانستان، غزني بلخ، سمرقند، بخارا او طخارستان فتح شـــول، د عثمان رض په دور کې اسلامي پوځونه ماوراء النهر او چین ته ورســـېدل، د نوموړي په دور کې مسلمانانو لومړنی سمندري ځواک چمتو کړ.

**نور بیا...**

# د خوندونو او لذتونو ډولونه:

**مولوي نورالحق مظهري**

که څـــه هم د جزئیاتو په لحـــاظ خوندونه ځان ته ډېر ډولونـــه لري خو په کلي ډول د خوندونـــو درې ډولونه دي چې په لاندې ډول د هر یـــوه تعریف او مثال ذکر سوی دی:

۱ - جســـمي او بدنـــي خوند؛ دا خونـــد د خوړلو، څښـــلو، لیدلـــو، اورېدلو او جنســـي اړیکو په ذریعه انســـان ته حاصلېږي او په دې خوند کې له انســـان سره نـــور حیوانات هم شـــریکان دي ځکه نو دا خوند د انســـان لپـــاره کمال نه دی کـــه چیـــري کمال وای نو باید په انســـانانو کې هغه انســـان غـــوره وای چې ډېر خوراک، څښـــل او جنســـي مقاربت یې کولای ســـره له دې چـــې ډېر خوراک، څښـــاک او ډېر مقاربت د انســـان لپاره کمال نه دی، همداســـي که دغه شیان د انســـان لپاره کمال وای نـــو انبیاؤ ته به د دوی تر دښـــمنانو ډېر ورکول کېدلای؛ البته هغه وخت کمال کېدلای شـــي چې د ځانه ســـره په ضمن کې اخروي لوی خوند ولري.

۲ - وهمـــي او خیالي خوند؛ دا د دنیوي مشـــرۍ، پر نورو انســـانانو د لویۍ او فخر خوند دی که څه هم د دې خوند غوښـــتونکي د لومړي خوند تر غوښـــتونکو په نســـبي ډول لـــوړ دي خو د دې خوند اصلـــي تاوانونه د هغه تـــر ګټو ډېر دي ځکـــه نو د دې خوند درلودلو په ســـبب انســـان د ډېرو ارزښـــتونو، معنویاتو او کمالاتو څخه محرومیږي او په خپل نفس کې د داســـي خوندونو ســـاتل شـــرعاً محکـــوم دي له همدې امله دا خوند هم د انســـان لپاره کمـــال او ځانګړتیا نده.

۳ - عقلـــي روحاني خوند؛ دا خوند انســـان تـــه د الله تعالی پـــه پېژندلو، علم او لوړو انســـاني صفاتو حاصلیږي لکه ســـخاوت، پاک لمنې، شـــجاعت، صبر، حلم، عبادت، ځوانمردي او داســـي نور...

دا تـــر ټولـــو لوی او مهم خوند دی او د انســـان لپاره ســـتر کمال هم دی ځکه د داســـې خوند درلودل د انســـان د هر اړخیز کمال او غـــوره والي دلیل دی او د داســـي خوند په درلودلو انســـان د الله تعالی رضا او په آخرت کې د جنتونو لوړ مقام تر لاسه کولای شي.

په احادیثو کې چې ایمان او ځینو نیکو اعمالو ته د خوند او لذت نسبت شـــوی دی همـــدا ډول خونـــد ورڅخه مراد دی چې په ســـاده ژبه یې مـــوږ تعبیر د زړه په ســـکون او آرامۍ ســـره کولای ســـو؛ لکه په حدیث کې چـــې راځي: د ایمان خوند هغه څوک درک کولای شـــي چې اللـــه تعالی د ځان لپاره رب غوره کړي، اســـلام د ځان لپاره دین غوره کړي او محمد صلی الله علیه وســـلم د ځان لپاره پیغمبر غوره کړي.

منبع: روضة المحبین ونزهة المشـــتاقین ص۱٤٥

# سواد، زده کړه او پوهه د مفهوم په لحاظ درې بېلا بېل تعریفونه دي

**حیا ت الله حلیم**

پورتنـــی عنوان د هغه څېړنو یوه برخه ده چې د ســـواد، زده کړو او پوهې داصلي مانا او په ځای تعریف ددې دریو واړو (ویونو) د ســـم او په ځای استعمال په اړه له موږ سره مرسته کوي، ځکه ډېرځلـــې لیدل کیـــږي او اورېدل کیږي چې ســـواد، د زده کړو او زده کړې د پوهې په مانا یا په بل عبارت ګډ وډ یود بل په ځای استعمالېږي، په لاندې ډول پرې رڼا اچول کېږي.

سواد: د انسان په وجود کې له هغه پدیدې څخه عبارت دی چې یوکس وکړای شي په ډېره لومړنۍ بڼه لیک ولولي او یا یو یا دوه کرښـــې څه ولیکلی شي، چې دا د سواد په ټیټه کچه مفهوم او ترهمدغه توان پورې محدود ګڼل شـــوی دی، کله چې د بیســـواده او باسوداه کلمه استعمالېږي نو اورېدونکی دا مفهوم ترې افاده کوي چې مقابل لوری داســـې باســـواده دی چې یوازې لوســـتونکی او د څوکرښود لیکلوتوان لري، یا اورېدونکی پوهیږي چې مقابل لوری دومره باسواده دی چې ددې توان لري کومه کرښه لیک له مخه ولوستلای شي او هم د سپین کاغذ پر مخ یوڅه ولیکي، سل کاله وړاندې به اکثره باسواده کسان په جوماتونوکې د ملا امامانو د (سرنامو) په مرســـته باسواده کېدل خو په هغه وخت کې مینه او علاقه ددې ســـبب کېده چې یوکس دډېرژر باسواده شي، باسواده کسان به هغه وخت زیاتره د ټولنې داکثریت بیسواده طبقې ترمنځ په کثرت پیدا کېدل.

ســـواد، د زده کړو یا پوهې لومړنی مفهوم افاده کوي، یا په دې برخه کې دلوړو، پوړیو، د لومړي پوړ، هغه زینه ده چې د زده کړو او پوهې دترلاســـه کولو په تـــکل لومړی ګام پکې اېښـــودل کیږي، د باسواده کېدو لپاره یوکس کولای شي په ډېره آسانۍ په لومړنۍ بڼه د ( الف، ب) توري سره وجنګوي او له دې حروفو سره دمشـــغولا په ترڅ کې په ابتدایي کچه یوڅه سواد ترلاســـه کړي، خو په تکرار سره وایو هغه کسان چې له سواد ســـره مینه لري ژر دې موخې ته رسېدای شي ځکه ډېرځله لیدل شـــوي چې په ډېره لږ هڅه یو کس ځان باسواده کړی وي.

دویم زده کړې: چې دا یوه کسبي پدیده ده چې ماشومتوب څخه پیلېږي او د زحمت او محنت په واســـطه له ښوونکي څخه ترلاســـه کیږي او لمنه یې هم ډېره پراخه وي ځکه زده کړې په بېلا بېلو برخوکې د ښوونکي لخوا په هغه څه، چې څوک پرې نه پوهیږي، ترلاسه کیږي، له ماشومتوب څخه تربوډاتوب پورې د زده کړو مرحله ګڼلې شو یا په بل عبارت له زانګو څخه ترقبر پورې زده کړې ادامه لرلی شـــي، دزده کړو مفهوم ډېرعام دی ځکه په یوه شق کې د بل (ښوونکي) په مرســـته ځان پوهولو ته زده کړې ویل کیږي خو زده کړې یوازې هغه مســـلک ته محدودې وي چې زدکړیال وخت ورته وقف کړی وي.

کله چې یوڅوک باسواده شو او لومړنی یا لوړې زده کړې یې هم ترلاسه کړې نو پوهه بیا ددې لرۍ دریمه، وروستۍ او پر مختللی مرحله ده چې ځانګړې څېړنې او پلټنې هم په دې برخه شاملې دي.

په کوم مسلک کې پوهه د معلوماتوله مطالعې څخه ترلاسه کیږي چې سلوک، فطري وړتیا د آفاقي معلوماتو مطالعه او سرآنجام قرینه هم پکې شامله ده ځکه د کتابونوله متن څخه د علمي استنباط په واسطه لوړه پوهه حاصلیږي او پوهه هم پراخه او لوړ ابعاد لري، په پوهه کې نیمګړتیا نشته کله چې مـــوږ د پوهې د کلمې نوم اخلو نو دا پـــه دې مانا ده چې یو کس په خپل مسلک کې دتخصص په وروستۍ مرحله کې قرار لري

د پوهـــې نړۍ ډېـــره پراخـــه ده او یو کس نشـــي کولای په ټولو برخوکې متخصص واوســـي یا بشپړه پوهه ولري ځکه نن ورځ په نړۍ کې ډېرساینســـي علـــوم لکه طب، تخنیک او همدارنګـــه ټولنیزعلوم لکه ادبیات، سیاســـت، اقتصاد، دیپلوماسي، اروا پوهنه موجود دي چې یوکس نه شي کولای پریوه وخت کـــې د ساینســـي او ټولنیزوعلومو متخصص واوســـي نوځکه مجبور دی په یوه برخه کې به خپله پوهه د بلوغ او نبوغ سرحد ته رسوي او ځانته به د پوهاند نوم خپلوي، که ټولو برخوته لاس وغځوي ښایي په هیڅ پوه نشي.

نوله سواد څخه زموږ وروستی اســـتنباط دا شوچې سواد د لیکلو او لوســـتلو لومړنۍ مرحلې ته وایي او زده کړې یې په پراخـــه ابعادودوهم پړاودی چې په کومه برخه کې یې کړې دي او پوهه بیا د پورته رشـــتوله ډلې څخـــه په یوه کې یې د تخصص حاصلول دي.

د ســـواد، زده کـــړو او پوهې لـــه درې واړو ترمنځ د زده کړو مرحلـــه مهمـــه ده ځکـــه زده کړې یوازې پـــه دې مانا نـــه دي چې یوکس به د خپل ښـــوونکي لـــه خولې د لیک او لوســـت ترلاســـه کوي زده کړه ډېره پراخه نړۍ ده چې په میخانیک ډول په نورو برخوکې هم ترلاســـه کېږي مثلا یو بیســـواده کس کولای شـــي د تخنیک په برخه کې له خپل اســـتاد څخه میخانیک زده کړې وکـــړي د موټرو جوړولو ښـــه مســـتري و اوســـي خو به ضمن کې بیســـواده وي یا په کوم بل تخنیکي مســـلک کې داســـې وړتیـــا ولري چې

# امارت اسلامی و تطبیق پروژه‌های ملی

## تبصره

امارت اسلامی افغانستان متعهد به بازسازی و عمران افغانستان و برای ثابت ساختن این گفته‌ها دلایل زیاد وجود دارد. مبصر آژانس باختر می‌نگارد؛ حضور بیست ساله نیروهای خارجی به فرماندهی امریکا در افغانستان با طمطراق و شعار های زیادی آغاز شد، یکی از این شعارها بازسازی و عمران افغانستان بود، مگر بیست سال حضور سنگین بیگانگان در افغانستان آنهم در موجودیت هزاران انجو یا موسسات غیر دولتی هیچ کار بنیادی صورت نگرفت، بیشترین کار خارجیان و انجو ها بر فعالیت‌های مدنی و ایجاد رسانه‌ها تمرکز داشت و بیشتر سنن و فرهنگ مردم افغانستان نشانه گرفته شد. اقتصاد ناتوان افغانستان هم‌چنان ناتوان ماند، این کشور از ناحیه انرژی برق نیازمند باقی ماند و به جای ایجاد سد ها و ساخت کارخانه‌های تولید برق، برق وارداتی ترجیح داده شد، از ناحیه کشت و زراعت متکی به خارج باقی‌ماند و به همین ترتیب مشکلات و نارسایی های دیگر، مگر این حضور، برای خارجی‌ها با ایجاد جزایر قدرت در افغانستان، واگذاری منابع مالی افغانستان به چهره‌های مشخص و ترویج فساد اداری در کشور پر دستآورد بود، بدون شک با آمدن نیروهای خارجی به افغانستان، این مسئله ترویج شد که این کشور با سنن و عرف و فرهنگ خاص که دارد، تقلید گرفرهنگ بیگانه بخصوص فرهنگ غربی باشد، مگر در سایر بخش‌ها افغانستان یک کشور عقب‌گرد بود.

مردم افغانستان در دوران «جمهوریت» و در چتر حمایت جهانی انتظار ساخت و ایجاد زیربنا ها را داشتند و وعده‌های زیادی از تغییرات مثبت و تغییر دسترخوان مردم را شنیدند در عمل به جز از سقوط افغانستان به سوی فقر، خیری از نظام ندیدند.

با آن‌که از امارت اسلامی برای عمران و بازسازی هیچ توقع و انتظار نمی‌رفت و با تبلیغات رسانه‌یی و مطبوعاتی، جز تازیانه، امید دیگری از امارت اسلامی در ذهن‌ها وجود نداشت، مگر ورود دوباره امارت اسلامی به صحنه سیاسی و حکومتداری در افغانستان نشان داد که تعهد برای عمران و بازسازی و شکوفایی اقتصادی وجود دارد، با حدود سه سال حکومتداری، امارت اسلامی موفقانه عمل کرده است و پروژه‌های زیربنایی و عمرانی متعددی را به بهره‌برداری سپرد.

پروژه کانال قوش تیپه بزرگ‌ترین دستآورد امارت اسلامی است که بخش اول آن تا نود فیصد تکمیل شده است با اجرایی شدن و اختتام این پروژه بیابان‌های خشک در شمال آبیاری خواهند شد و در کنار آن کشاورزان در بخش های از بلخ، جوزجان و فاریاب دیگر با کمبود آب مواجه نخواهند شد.

امروز تمرکز بر استخراج قانونی معادن بیشتر شده است، راه‌بدیل برای ترانزیت و تجارت مدنظر است، داد و ستد تجاری باکشور های اطراف ازدیاد یافته است و دیگر افغانستان از لحاظ تجارت و ترانزیت باکشور خاص وابسته‌نیست، شاهراه‌های جدید در حال احداث‌اند، برای مدیریت آب‌های کشور برنامه‌ریزی‌های موثر شده است، در کنار بهره‌گیری از صدها پروژه عمرانی، کار انتقال آب دریای پنجشیر به کابل به‌زودی آغاز خواهد شد که با این کار، بخشی از مشکلات پایتخت از ناحیه کمبود و نبود آب آشامیدنی بر طرف خواهد شد.

این همه کارها، در حالی انجام شده است که افغانستان هم‌چنان با محدودیت‌ها و تحریم‌های برونی مواجه است و دید سبوتاژگرانه نسبت به افغانستان و نظام موجود در آن وجود دارد، اگر تحریم و سبوتاژ وجود نمی‌داشت، دستاورد های امارت اسلامی به مراتب بیشتر از آن می‌بود که از آن ذکر شد.

این‌که امارت اسلامی موفق به تطبیق پروژه‌های زیر بنایی شده است، ناشی از تعهد عزم راسخ آن به ارزش‌های ملی است، امارت اسلامی می‌کوشد همه ظرفیت‌ها فعال و مثبت را در کشور به کار اندازد تا از وابستگی‌ها افغانان بکاهد و این کشور دریچه همکاری‌های منطقه‌یی باشد، نه انتظار گاه دریافت کمک‌های برونی.

## د بېوزلو او زیانمنو ...

راستنو شویو کډوالو لاسنیوی کوي او له طبیعي پېښو څخه زیانمنو شویو هیواوالو ته اړینې مرستې رسوي.ددغې ناستې په پیل کې ښاغلي مصطفی د یادې موسسي د فعالیتونو د څرنګوالي په اړه څرګندونې وکړې او په خبره یې: یاده موسسه د بېلابېلو سیمو بې وزله او له طبیعي پېښو څخه زیانمن شوي خلک د خپلو مرستو تر پوښښ لاندې راولي او لاسنیوی یې کوي.ورپسې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ مرستیال مولوي احمد علي جان احمد د یادې موسسې له لوري پر عملي فعالیتونو د ټینګار ترڅنګ وویل چې په ولایتونو کې دې په یادو برخو کې د خلکو اساسي اړتیاوې په پام کې ونیول شي او همکاري دې ورسره وشي.

## افزایش چشمگیر عاید اداره ...

سی ودو هزارتذکره ی کاغذی والکترونیکی به شهروندان به دست آمده است.مولوی انقیادی می گوید که عاید به دست آمده را با خزانه ی دولت سپرده اند.درفاریاب دومرکز توزیع تذکره الکترونیکی و شانزده مرکزتوریع تذکره کاغذی فعال است که روزانه تا سه هزارودوصد مراجعه کننده دارند.شهروندان فاریاب، ازنحوه ارائه خدمات احصائیه ومعلومات این ولایت ابراز رضایت کردند.

## یوناما خواستار افزایش ...

خبر داده است.بربنیاد خبرنامه، آقای رتواتی گفته که معاونت سازمان ملل متحد در نظر دارد تا تطبیق پروژه‌های دسترسی شهروندان افغان به آب آشامیدنی صحی، افزایش یابد. معاون یوناما از فعالیت‌های مثمر و سودمند وزارت احیاء و انکشاف دهات در بخش تطبیق پروژه‌های انکشافی، ستایش کرده است.در همین حال، ملا محمد یونس آخند، سرپرست وزارت احیاء و انکشاف دهات تطبیق پروژه‌های انکشافی را مهم دانسته در عین‌زمان به اولویت‌دهی پروژه‌های بنیادی در کشور، تاکید کرده است.یوناما در حالی از افزایش پروژه‌ها در بخش دسترسی شهروندان به آب صحی خبر داده که پیش از این هرازگاهی از تطبیق و به بهره‌برداری سپردن پروژه‌ها در این خصوص در بخش‌های مختلف کشور گزارش می‌شود.این پروژه‌ها به حمایت مالی صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد (یونیسف) در کشور عملی می‌شود.

## رسانه‌ها در بازتاب داشته ...

مجلات تاریخی و فرامین صادر شده حاکمان افغانستان در ادوار مختلف، گوشه‌ای از داشته‌های آرشیف ملی کشور است.آثار یادشده و برخی دیگر از داشته‌های با ارزش آرشیف ملی از سوی وزارت اطلاعات و فرهنگ کشور به نمایش گذاشته شده است.

## نجونو ته لومړي ځل لپاره ...

کړې ده. د عامې روغتیا وزارت وزیر ډاکټر قلندر عباد په یوه وینا کې چې د دې وزارت له لوري خپره شوې، ویلي: اسلامي امارت د لومړي ځل لپاره په کور دننه په نسایي ولادي ناروغیو کې د تخصص تر څنګ د نورو نارغیو په برخو کې هم د تخصصي زده کړو زمینه برابره کړې ده. ښاغلی وزیر زیاتوي، د دې ترڅنګ چې ښځینه روغتیایي کارکوونکې په نسایي ولادي برخې کې تخصص ولري باید په نورو ناروغیو اخته د ښځینه ناروغانو د تداوۍ لپاره د نورو ناروغیو په برخو کې هم تخصصي زده کړې ولري. د عامې روغتیا وزیر ټینګار کوي، چې د نسایي ولادي ناروغیو په برخه کې د تخصص تر څنګ د داخلې، جراحي، یورالوژي، پلاسټیک عملیات او د روغتیا په ټولو برخو کې ښځینه متخصصانو ته اړتیا لیدل کیږي.

## دفاع وزارت نږدې زر تنه ...

ورته مهال نویو فارغانو ژمنه وکړه چې د هیواد په هر ګوټ کې خدمت کولو ته چمتو دي. دفاع وزارت تر دې دمخه هم په لسګونو زرو ځوان منسوبین روزلي او د هیواد دفاع ته یې چمتو کړي دي.

## پولیس یک محموله مهمات ...

مدیریت مبارزه با تروریزم این قوماندانی کشف شده است.گفتنی‌است که نیروهای امنیتی به‌گونه شبانه‌روزی تلاش‌ها را به هدف جلوگیری از هرگونه رویداد ضد امنیتی، تشدید کرده‌اند.

## آخرین تحولات سیاسی...

آخرین تحولات سیاسی در داخل کشور، منطقه و جهان به بررسی گرفته شده است.

در خبرنامه آمده که اعضای کمیسیون در جلسه یادشده در مورد آخرین انکشافات در روابط افغانستان با منطقه و جهان در مورد پیشرفت‌های امارت اسلامی، تبادل نظر کرده‌اند.

در این جلسه همچنان به تلاش‌های مشترک برای حل و بهبود برخی از مسایل سیاسی، تاکید صورت گرفته است.گفتنی‌است که امارت اسلامی با گذشت هر روز به پیشرفت‌های در حوزه سیاسی و گسترش روابط با کشورهای مختلف جهان، دست می‌یابد.

## اروپا ته د افغاني مېوو...

به د تازه میوو او سبزیو د تشولو او بارولو په موخه مجهز ساتنځای هم جوړ کړي؛ تر څو د افغانستان تازه مېوه او سبزي له ځنډ او خرابوالي پرته منځنۍ اسیا، اروپا او بهرنیو هېوادونو ته صادره شي.

نوموړي زیاته کړه، د دې ترڅنګ ازبکستان غواړي د رېل پټلۍ له لارې په افغاني توکو ۵۰ سلنه تعرفه کمه، د افغانستان د ریل پټلۍ له لارې انتقالات زیات او ټرانزیټي بهیر ته وده ورکړي.

بلخوا د ازبکستان د وسپنې پټلۍ مرستیال ویلي، ازبکستان د افغان ټرانس په څېر د سترو رېلي پروژو په پلي کولو کې ځانګړې ونډه اخلي.

## روند تولید سمنت گلبهار ...

معادن و پترولیم معلومات داده گفت: این کارخانه تا یک سال دیگر به تولید سمنت آغاز خواهد کرد که سالانه ظرفیت تولید یک میلیون تن سمنت راخواهد داشت.

پروژه تولید سمنت زنده جان با سرمایه (۱۴۲) میلیون دالر امریکایی برای ۳۰ سال با شرکت گلبهار گروپ قرار داد شده است. با ساخت کارخانه سمنت در زنده جان هرات برای بیش از پنج هزار نفر به صورت مستقیم زمینه کار فراهم خواهد شد و افغانستان نه تنها در تولید سمنت خودکفا خواهد شد بل امکان صادرات آن را نیز خواهد داشت.سرپرست وزارت معادن و پترولیم از همکاری رهبری و تیم تخنیکی وزارت آن با شرکت قرارداد کننده اطمینان داد.

## هلمند کې د یوه ...

شوې.د هلمند والي ددغې سیمې له اوسیدونکو سره د خبرو پر مهال د یاد سړک د جوړولو پروژه بنسټیزه وبلله او په خبره یې، ولایتي اداره تل هڅه کوي چې لومړیتوبونو ته په پام سره د هلمند په ټولو سیمو کې په متوازن ډول بنسټیز چوپړونه ترسره کړي.د والي په وینا، یاد سړک د ولایت مقام د تخنیکي کمېټې په مټ په داخلي بودیجې او ماشینرۍ جوړېږي چې لوی مانده او کندهار هرات لویه لاره سره نښلوي او په جوړېدو سره به یې د خلکو ګڼې ستونزې حل شي.ورته مهال یو شمېر ځایي اوسیدونکو ددغه سړک په جوړېدو خوښي وښووده، د ولایتي اداري فعالیتونه یې د ستاینې وړ وبلل او په نورو سیمو کې یې هم د ورته نورو پروژو د پلي کېدو غوښتنه وکړه.دا سړک ۱۰ متره پلنوالی او ۱۴.۵ کیلومتره اوږدوالي لري چې په اوږدو کې به یې یو شمېر پلچکونه هم ورغیږي.

## له۱۳۰ چکډیمونو څخه . . .

شوی دی، ایا دا تغیرات یې د اوبو د زیاتوالي له امله دي او که بل لامل لري؟

ځواب: نوموړي تغییرات د نوو تاسیساتو له امله دي چې اوسمهال یې د دویمې برخې چارې، چې د خدماتي پرچاوي جوړول، د هغې د دروازو نصبول او د اضطراري پرچاوي جوړول پکې شامل دي، ۱۰ سلنه بشپړې شوې دي. د یادونې وړ ده، چې د کجکي بند د دویم فاز د لومړۍ او دویمې برخې د چارو په بشپړېدو سره به د نوموړي بند د اوبو زیرمه کولو وړتیا له یو میلیارد متره مکعب څخه ۲.۰۲ میلیارد متره مکعب ته، د اوبولګولو وړتیا له ۱۰۰ زره هکټاره څخه ۲۷۶۰۰۰ هکټارو ته او د برېښنا د تولید وړتیا به له ۵۱ میګاواټو څخه ۱۵۱ میګاواټو ته لوړه شي.

پوښتنه: د تېر کال وچکالۍ د کجکي بند په اوبو کې څومره کموالی راوستی دی او د سږکال وړاندوینه مو څه ده؟

ځواب: تېر کال د کجکي بند اوبه په نشت حساب وې، هیله ده چې سږکال دومره اوبه ولري، چې حداقل د بند ساختمان له تخنیکي عوارضو خوندي وي.

پوښتنه: د دغه بند اوبه له کومو ذخایرو څخه پوره کېږي؟

ځواب: د کجکي بند د هلمند په سیند جوړ شوی دی، چې سرچینه یې د بابا غرونو له لړۍ د پغمان له غرونو څخه ده.

پوښتنه: دې ته ورته په نورو داخلي بندونو مو څومره کار کړی دی؟

ځواب:

۱. د بخش آباد بند د لومړي فاز چارې په بشپړېدو دي، نوموړی بند ۲۷ مېګاواټه برېښنا تولیدوي او ۶۸۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبوي.

۲. د پاشدان بند ساختماني چارې ۷۵ سلنه پرمخ تللې دي، ابتدایي چارې په ساحه جریان لري، تېر کال د اوبو او انرژي وازرت تقریبا یو میلیارد افغانۍ پکې مصرف کړی دی، نوموړی بند هم ۲ مېګاواټه برېښنا تولیدوي او ۱۳۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبوي.

۳. د شاه او عروس بند چارې ۹۹ سلنه پرمخ تللې دي، ۱.۲ مېګاواټه برېښنا تولیدوي.

۴. د کجکي بند د ۱۵۱ مېګاواټه برېښنا تولیدوي، ټولیز ظرفیت یې ۲ میلیارده متر مکعبه اوبه دي، د دویم فاز چارې یې ۱۰ سلنه پرمخ تللې دي، لومړی فاز یې تقریبا تکمیل دی.

۵. د توري بند چارې ۹۵ سلنه پرمخ تللې دي، په راتلونکي دوه دریو میاشتو کې به ګټه اخیستنې ته وسپارل شي.

۶. د کمال خان بند چارې هم ۹۸ سلنه پرمخ تللې چې ۹ مېګاواټه برېښنا تولیدوي اوس یې پر پاورهوز کار روان دی.

۷. تر دې مهاله د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري ۱۳۰ چکډېمونه قرارداد شوي، له دې جملې یې ۵۰ ګټه اخیستنې ته سپارل شوې دي.

۸. د ۴۰۰ ملیون افغانیو په ارزښت د آمو سیند تحکیماتو پروژې په ساحه کې جریان لري.

۹. د هېواد پر ۱۷ بندونو د حفظ او مراقبت پروژې پلي شوي او بیا ځلې د استفادې وړ ګرځېدلي دي.

۱۰.او داسې نورې د متوسطو بندونو کانالونو او سربندنو پروژې تر کار لاندې دي.

**تاج محمد بهار**


# افغان اعلانات

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان درنظردارد، پروژه ایجاد آرشیف استندرد و ترمیمات حوزه های مالیاتی مربوط ریاست مالیه دهندگان کوچک دارای تشخیصیه نمبر MOF/1402/NCB/W-100-Rebid رابا شرکت ساختمانی مدنی دارنده جواز نمبر D-20399 به قیمت مجموعی مبلغ 10،805،539 (ده میلیون و هشت‌صدو پنج هزار و پنجصدو سی و نه) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات-کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد. آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان-ریاست تدارکات، آمریت تدارکات-منزل دوم معینیت اداری.

+++++++++

### اعلان

دعدلیی وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د ټولنې دلانبه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کرنلارې سره‌سم، اتحادیه زنبور داران لوګر ولایت ته د فعالیت جواز ورکړي دیاد جواز اخیستلو عمرا خان د الله میر زوی، د لوګر ولایت خوشي ولسوالۍ اصلي او فعلي اوسیدونکي د رییس، او محمد یوسف خان د خیال محمد زوی د لوګر ولایت محمدآغه ولسوالۍ اصلي او فعلي اوسیدونکي د مرستیال په توګه عارض شوي که پر یادو اشخاصو د صنف اړوند کوم څوک نیوکه لري داعلان له نېټې څخه تر لسو ورځو پورې د عدلیی وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهدو سره یوځای په لیکلي بڼه وړاندې کړي له یادې نېټې وروسته به نوموړو اشخاصو ته د فعالیت جواز صادرېږي چې د جواز د صدور له نېټې څخه د جواز تر نهایي نېټې پورې په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لري.۱۹۶

++++++

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه وثیقه خط شرعی دارای نمبر ۲۱۴۳/۴۹۱۲ مورخ ۱۴۴۴/۱/۶ مطابق ۱۴۰۰/۵/۲۴ حصر وراثت مرتبه محکمه وثائق حوزه هفتم کابل به اسم ماریا بنت میر سیف الدین ورثه میر سیف الدین فرزند میر صدر الدین مفقود گردیده ازاعتبار ساقط میباشد.۲۰۴

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسۀ داوطلبی پروژه های ذیل اشتراک و آفر های سربستۀ خویش را مطابق شرایط شرطنامه از تاریخ نشر اعلان الی ضرب الاجل تسلیمی آفر ها ارایه نمایند:

| شماره | نام پروژه | نمبر تشخیصیه | مقدار تضمین آفر (گرنتی بانکی به افغانی) | ضرب الاجل تسلیمی آفر ها |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | پروژۀ تدارک ۱۳۱ قلم سامان آلات برقی ضرورت ریاست تعمیرات، حفظ و مراقبت | OCS/1403/G-62 | 120,000 | ۱۴۰۳/۲/۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر |
| ۲ | پروژۀ تدارک ٤٠ قلم فلترباب، روغنیات و اجناس جنراتور ها ضرورت ریاست تعمیرات، حفظ و مراقبت | OCS/1403/G-64 | 43,000 | ۱۴۰۳/۲/۵ ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر |

کاپی شرطنامۀ مربوط را در بدل مبلغ (۵۰۰) پنج صد افغانی از آدرس ذیل به دست آورده می توانند:
- ساختمان روابط عامه واقع دروازۀ ورودی ادارۀ امور.

به منظور حصول معلومات بیشتر به آدرس های ذیل به تماس شوند:
- شمارۀ دفتر: ۰۲۰۲۱۴۲۱۰۲
- شماره وتسپ شخص مسئول: ۰۷٤۸۵۹۵۰٦۰

آدرس بازگشایی آفرها: ارگ، جوار تعمیر اداری، ساختمان شورای امنیت اسبق، منزل دوم، سالون جلسات.

**Shariat Daily**

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Tuesday 02 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 420


# حنفی: رسانه‌ها در بازتاب داشته‌های آرشیف ملی نقش اساسی دارند

مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست‌الوزرا می‌گوید، رسانه‌ها در بازتاب داشته‌های آرشیف ملی کشور برای مردم، نقش اساسی دارند.ارگ در خبرنامه گفته که مولوی حنفی این سخنان را هنگام دیدار از نمایشگاه آثار اسلامی و نمایشگاه نسخه خطی قرآن‌کریم در کابل بیان کرده است.این نمایشگاه به مناسبت ماه مبارک رمضان از سوی وزارت




اطلاعات و فرهنگ کشور، برگزار شده است.معاون اداری رییس‌الوزرا محافظت از آثار تاریخی کشور و جلوگیری از آسیب دیدن و قاچاق آن را مکلفیت همه عنوان کرده است.به گفته آقای حنفی موجودیت این آثار برای نسل‌های آینده کشور ضروری است.نسخه خطی قرآن کریم، دیوان حافظ، دیوان رحمان بابا، کلیات بیدل، مثنوی امیرالکلام علی‌شیر نوایی ۳مخ

## روېدادهای خارجی

### کیف دي د مسکو برید په اړه ځواب ووايي



روسي چارواکو ویلي چې په مسکو کې د ترسره شوي وسله وال برید جرړې تر کییف رسیږي او باید دوی د دغه برید په اړه ځواب ووايي.د روسیې بهرنیو چارو وزارت تېره یکشنبه اعلان وکړ، د دغه وزارت څېړنې ښيي، چې مسکو کې د وروستي ترهګریز برید ریښې په کیف کې دي او کییف یې باید په تړاو وضاحت ورکړي.

مسکو له کیف څخه غوښتي، چې برید کې ښکېل کسان ونیسي او دوی ته یې وسپاري.د بهرنیو چارو وزارت دغه راز زیاته کړې، چې دغه برید کې د اوکراین د ملي امنیت د خدماتو مشر واسیل مالجوک هم لاس لري او باید روسیې ته وسپارل شي.
مسکو کې د مارچ پر ۲۲ مې مشکوک بریدګر هم له اوکراین سره پر پوله نیول شوي وو.

### اعتراضات گسترده در تل ابیب؛ نتانیاهو باید استعفا دهد

هزاران تن از شهروندان اسرائیل علیه رژیم صهیونیستی به جاده ها ریخته و خواستار برکناری بنیامین نتانیاهو، نخست‌وزیر اسرائیل و آزادی گروگان‌ها شدند. خبرگزاری فرانسه با نشر خبری گفته است، که این معترضان پس از تجمع در مقابل پارلمان اسرائیل و روشن کردن آتش یک بزرگ‌راه شهر اورشلیم را مسدود کردند. بربنیاد معلومات، مخالفت علیه دولت بنیامین نتانیاهو به گونه بی پیشینه در اسرائیل افزایش یافته و روز شنبه هفته جاری نیز هزاران نفر در شهر تل ابیب بزرگترین شهر اسرائیل دست به تظاهرات زدند. این تظاهرات در حالی برگزار می‌شود که مقام‌های اسرائیلی امروز اعلام کردند که از هفتم اکتوبر تا کنون بیش از ۶۰۰ نیروی اشغالگر در نوار غزه کشته شده اند رقمی که حماس آنرا چندین برابر می‌خواند.

### صهیونست ځواکونه د غزې له ځینو سیمو په شا شوي



د الجزیرې په قول، صهیونست ځواکونو په غزه کې ځیني سیمې پرېښې او شاتګ ته اړ شوي دي. ویل کیږي چې دغو یرغلګرو ځواکونو د الشفا روغتون شاوخوا پرېښي او شا ته تللي دي.اسرایلي ځواکونو پرون په غزه کې د الشفا روغتون محاصره پرې ایښې او د غزې جنوب لوري ته یې شاتګ کړی دی.دغې محاصرې دوه اوونۍ دوام وکړ او په جریان کې یې صهیونست پوځونو سلګونه کسان شهیدان او ټپیان کړل.راپورونه زیاتوي، چې دغه روغتون کې د وژل شویو سلګونو کسانو جسدونه لمر ته پراته دي او روغتون کې بند کسان له بد روغتیایي وضعیت څخه کړیږي.ویل کیږي چې صهیونستان د حماس جنګیالیو پیاوړي مقاومت شاتګ ته اړ کړي دي.

**توجه !**

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**

## نجونو ته د لومړي ځل لپاره له نسايي ولادي برته، تخصصي زده کړې چمتو شوې




اسلامي امارت په لومړي ځل ښځینه روغتیايي کارکوونکو ته په نسايي ولادي برخه کې د تخصصي زده کړو تر څنګ په نورو برخو کې هم د تخصصي زده کړو زمینه برابره ۳مخ

## یوناما خواستار افزایش پروژه‌های انکشافی در بخش دسترسی شهروندان به آب صحی است



این مطلب را اندریکا رتواتی، معاون نماینده ویژه سازمان ملل متحد در افغانستان در دیدار با ملا محمد یونس آخند، سرپرست وزارت احیاء و انکشاف دهات، ابراز کرده است.وزارت احیاء و انکشاف دهات، دیروز در خبرنامه‌ای از دیدار معاون یوناما با سرپرست این وزارت در دفتر کارش ص۳

## دفاع وزارت نږدې زر تنه له ګډو زدکړو فارغ کړل

دفاع وزارت وايي چې دا ځل یې د ۳۵۰ پنجشیري او بغلاني ځوانانو په ګډون، د حضرت عبدالله بن مسعود رض د جګړه ییزو ګډو زده کړو قوماندانۍ څخه ۹۸۵ تنه ځوان منسوبین فارغ کړي دي.یاد ۹۸۵ ځوان منسوبین د تعلیماتو او پرسونل معاونیت اړوند د حضرت عبدالله بن مسعود رض د جګړه ییزو ګډو زده کړو قوماندانۍ څخه د بیلابیلو قطعاتو او جزوتامونو له څلور میاشتنیو عقیدوي او مسلکي زده کړو فارغ او چوپړ ته چمتو شول.
دغو مراسمو کې د چارو اداري لوی رئیس شیخ نورالحق انور، د تعلیماتو او پرسونل مرستیال مولوي بازمحمد حمیدي، د یادې قوماندانۍ قوماندان مولوي نصیب الله مدني، ګڼ شمېر رئیسانو مسوولینو او منسوبینوګډون کړی وو.د چارو اداري لوی رئیس شیخ نورالحق انور یادو فارغینو ته په وینا کې وویل: موږ داسې غونډه کې راټول یو، له کوم ځای څخه چې زموږ د هیوادوالو عزت د پردیو په لمسون لوټل کیده. لله الحمد اوس دلته د هیواد او ملت ساتنې لپاره منسوبین روزل کیږي. شیخ انور په خپله وینا کې د عصري وسلو پر لرلو ټینګار وکړ، ترڅو دوښمن کمزوری او ازادي مو خوندي کړي وي. ۳مخ

د اوبو او انرژۍ وزارت:

## له ۱۳۰ چکډېمونو څخه ۵۰ ګټه اخیستنې ته سپارل شوي



**شریعت :** په هېواد کې د اوبو کمښت یوه اساسي ستونزه ده. ددغه ناورین له امله نه یوازې هوا ته زیان اوښتی دی؛ بلکې د برېښنا پرچاوي هم ورسره زیاته شوې ده. د همدې ستونزو د حل اړوند د اوبو او انرژۍ وزارت هم دغه ستونزه مني، خو په وړاندې یې په بندونو او چکډېمونو جوړولو لاس پورې کړی، چې باور کېږي د وچکالۍ ستونزه به تر یوه حده مهار کړي. په همدې هکله مو د یاد وزارت ویاند مطیع الله عابد سره خبرې کړې، چې مونږه یې درته د پوښتنې او ځواب په بڼه مخته ږدو:
پوښتنه: د کجکي بند کې د برېښنا د زیاتوالي خبر ورکړل ۳مخ

## یونسکو شهرهای تاریخی غلغله و ضحاک در بامیان را بازسازی می کند

برندون کاسار، مسئول فرهنگی سازمان آموزشی، علمی و فرهنگی ملل متحد، گفته است که این سازمان شهرهای تاریخی غلغله و ضحاک در بامیان را، بازسازی می کند. دفتر رسانه‌های ریاست اطلاعات و فرهنگ بامیان، اعلام کرده که برندون کارسار، این موضوع را در دیدار با صفی الله رائد، رییس اطلاعات و فرهنگ این ولایت، مطرح کرده و افزوده است که با آغاز کار بازسای شهر غلغله و ضحاک به ۲۰۰ باشنده‌ی بامیان زمینه‌ی کار فراهم می‌شود. دفتر رسانه‌های ریاست اطلاعات و فرهنگ بامیان، به نقل از برندون کاسار افزوده است که کار ساخت مرکز فرهنگی بامیان تکمیل و آثار و مکان‌های باستانی دره‌ی کرکر مرکز بامیان نیز، از سوی یونسکو شناسایی می‌شود. رییس اطلاعات و فرهنگ بامیان، در این دیدار از هم‌کاری با یونسکو برای بازسازی مکان‌های باستانی و توسعه‌ی میراث‌های فرهنگی این ولایت، اطمینان داده است یونسکو، سال گذشته نیز بخش از شهر تاریخی ضحاک در بامیان را بازسازی کرده بود.

## پولیس یک محموله مهمات را در هرات کشف‌وضبط کرد



مقام‌های امنیتی ولایت هرات می‌گویند، نیروهای پولیس قوماندانی امنیه ولایت هرات یک محموله مهمات را در ولایت هرات، کشف‌وضبط کرده‌اند. عبدالله انصاف، سخنگوی قوماندانی امنیه هرات در گفت‌وگو با رادیو امید از کشف‌وضبط ۳مخ

## سه رسانه‌ی جدید در هرات آغاز به فعالیت کردند

مسئولان محلی در هرات، از آغاز فعالیت سه‌رسانه‌ی جدید زیر نام‌های «حریت، امید و شریعت» در این ولایت خبر می‌دهند و می‌گویند حکومت سرپرست از رسانه‌هایی که نشرات‌شان مطابق به‌قوانین این حکومت و به منافع ملی باشد، پشتیبانی می‌کند. احمدالله متقی، رییس اطلاعات و فرهنگ هرات، به سلام‌وطندار می‌گوید که دیروز این سه رسانه به گونه‌ی رسمی در این ولایت آغاز به فعالیت کردند. رییس اطلاعات‌وفرهنگ‌هرات، موجودیت رسانه‌ها را در بیان حقیقت‌ها و اطلاعات مهم می‌داند و می‌افزاید که «رسانه‌ها می‌توانند در برابر تهاجم فرهنگی که جهان غرب داشته، نقش ارزنده‌ای داشته باشند.» در همین حال، محمدنبی قاضی‌زاده، مسئول‌رادیو «شریعت»، هدف از فعال‌کردن این رسانه را آگاهی‌دهی عنوان می‌کند و می‌گوید که رادیوهای «حریت، امید و شریعت» نشرات ۲۴ ساعته خواهند داشت. گفتنی است که هم‌اکنون ۳۱ رسانه‌ی دیداری وشنیداری در هرات فعالیت می‌کنند.